مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حکیم روان ۲۰۱۹/۰۴/۱۴

# پر مدعا «هوښیاران»!

زمونږ په ټولنه کې له اوږدو مودو راهیسې د پرمختګ او ارتجاعیت تر منځ جګړه روانه ده . د پرمختګ پلویانو تل اصلاحی پروګرامونه وړاندې کړی دی او د هغو د تطبیق په لاره کې یې هڅې او هاند کړی دی. آمانی نهضت د دې بهیر تر ټولو غوره نمونه او مثال دی. خو آمانی نهضت د ګوډ ملا او د انګریزی استعمار سره د ترلو کړیو د توطئو په پایله کې ماتې وخوړه.

آیا د آمانی نهضت آرمانونه (سیاسی آزادی، خلکو ته د انسانی او مدنی حقوقو ورکول، د ښځو د نهضت له پاره مبارزه، د نوې تکنالوژۍ راوړل، د علومو د ودې سره د متناسب مدرن تعلیمی نظام ایجادول) او په سیاسی، ټولنیزو، اقتصادی او کلتوری برخو کې د مدنی اصلاحاتو راوستل ناوړه کار وو؟

باید ووایو چې د آرمانونو په انتخاب کې آمانی نهضت په حقه او دقیق وو، خو د عمل په جریان کې اشتباهات او خطاوې د آرمانونو د ناسموالی مانا نه لري. د ګوډ ملا د منځنیو پیړیو د مسلط تفکر پر ځای باید مجربو او ژمنو روښنفکرانو د آمانی نهضت انسانی تفکر د ټولنې مختلفو پاړکو ته رسولای وای. خو په دې کار ځکه بریالی نه شول چې روښنفکران په الفاظو او کلماتو کې د آمانی نهضت پلویان وو او په عمل کې یې د ګوډ ملا له تفکر څخه واټن نه وو اخیستی.

تر ننه د آمانی نهضت آرمانونه نه دی پوره شوی او د آمانی نهضت آرمانونه زمونږ د وخت آرمانونه هم دي . مانا دا چې ګوډ ملا زمونږ هیواد سل کاله وروسته وغورځاوه.

نن چې په هیواد کې د نظر د بیان او مطبوعاتو آزادی را منځته شوی ده او نن چې افغان انسان د واکمنی د ټاکلو په چارو کې د ګډون حق تر لاسه کړی دی، د ښځو د آزادیو او حقوقو آوازونه اوریدل کیږي، د سیاسی ګوندونو د فعالیت آزادی ( سیاسی پلوراليسم ) را منځته شوی دی او نجونی او هلکان په مرکز او ولایاتو کې ښوونځیو او فاکولتو ته ځی، د افغانستان د اقتصادی بدلون پراخ پروګرامونه تر لاس لاندې دی ، پر زاړه پالو مرتجعینو بر سیره یو شمیر ځان غوښتونکی روښنفکران هم خشمیږي او د طالبانو او پنجاب ارتجاعی موضع ته ور رغړي.

په داسی حال کې چې هیواد مو څلوېښت کاله د نیابتی جګړو ډګر دی او هر افغان ته ښايي چې د مغرضو ګاونډیانو د ارادې پر خلاف د اصلاحاتو له پاره د خپل حکومت ملا وتړي، په خواشینی سره ځینې لویدلی په اصطلاح روښنفکران د پنجاب له ملاتړه برخوردار طالب ته د خلکو د مقاومت وسله واله برخه وایي!!!! یانې طالب ته د ملی او آزادي ښونکی نهضت په سترګه ګوري. په مستقیم او غیر مستقیم ډول د طالب او آس-اس-آی تبلیغات بدرګه کوي. طالب او داعش زمونږ د عصر د وحشت او بربریت تر ټولو غوره نمونې دی . که اسلام د جهالت ضد وي، پس اسلام او طالب دوې متضادې پدیدې دی .

زمونږ پر مدعا « هوښیاران » د منځنیو پیړیو طالب او د هغه تروریست ملاتړی آی-اس-آی د خپلو تبلیغاتو موخه نه ګرځوی، بلکې افغان دولت یې د تبلیغاتو اصلی موخه ده. دوی د طالب او پنجاب تر مخ تیریږی او پر افغان دولت او د هغه پر نړیوالو ملاتړو او امریکا برید کوي. دا ښاغلی د قرون وسطایي ارتجاع او پرمختللی سرمایه داری نظام په توپیر هم نه پوهیږی، دوی د مطلق حقیقت په لټه کې د طالبی ارتجاع په دام کې نښتی دی. دوی د افغان حکومت ستونزې په نظر کې نه نیسی، څلوېښت کلنې جګړې ټول داخلی امکانات له منځه وړی دی. نن افغانستان د پردو مرستو ته اړ یو هېواد دی. د هیواد ولسمشر په ډاګه وایي چې حکومت له داخلی منابعو د څو میاشتو له پاره د وسله وال ځواک معاشونه نه شی تأمینولای. د حکومت ستونی د طالب د داخلی متحدینو جهادی چوړګرو له خونړیو پنجو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

نه دی خلاص شوی. دې او دې ته د ورته واقعیتونو په نظر کې نیولو سره د عقل خاوندانو او پوهانو ته په کار ده چې د خپلو هیلو او افغانی واقعیت تر منځ انډول ولټوی او دا وار بیا د ګوډ ملا پر ځای د ړانده ملا د ایله جاریو په واسطه نور سل کاله افغانستان شاته ونه غورځول شی . لږ فکر کول په کار دی ، طالبان له جهادی غلو سره خبرو او جوړجاړی ته کینی، خو د آی-اس-آی د دستور مطابق د افغان حکومت سره نه غواړي سوله وکړي .افغان روشنفکر هم د طالبی او جهادی ارتجاع جوړ، جاړی ته چکچکې کوي. د پاکستان صدراعظم د مؤقت حکومت خبره کوي، په دی هدف چې افغانان د حکومت د ټاکلوغوره شوی لار پریږدي، مؤقت حکومت پر وتپي . اوپه دې توګه د موجود حکومت له شره ځان خلاص کړی، ځو وکولای شی د خپل ستراتژیک عمق موخې په اسانی سره تعقیب کړي. او طالب د پاکستان دي موخې ته تر پاکستان هم زیات ژمن دی. افغان دولت په دې اړه د پاکستان مداخله د تل په څېر غندی او پاکستان په ديپلوماتیکو اقداماتو ګوابني ، خو مزدور طالب هیڅ ډول عکس العمل نه څرګندوي. دا ولې؟ ځکه افغان حکومت د افغانستان د ګټو د ساتلو مسؤلیت لری، خو طالب د پنجاب نوکری کوي .

اړینه ده چې په برخلیک ټاکونکو شیبو کې د منځنیو پیړیو د ارتجاع ( طالبی او جهادی اتحاد ) او د هغو د ملاتړو په وړاندې د اصلاح غوښتونکو او پرمختګ پلوه ځواکونو ټینګ سنګر جوړ شی. د داسې یوه پراخ اتحاد او پیوستون په هیله چې هیواد مو د ګوډو او ړاندو ملایانو له لعنت نه خلاص کړي او د افغانانو برحقه آرمانونه له پیړیو وروسته د عمل جامه واغوندي ، په خپلو پښو ودریږي او په خپل ځان د بسیاینې پړاؤنه په بری سره ووهي .

د یوې عادلانه او د پردیو له مداخلی پرته د افغانانو د حقوقو او آزادیو په لور کې د پایښت لرونکی سولې په هیله !

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ